**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## حزب التحرير بنګلدیش ته له اسرایلو څخه د دوو الوتکو د الوتنې په غبرګون کې لاریونونه وکړل

(ژباړه)

حزب التحرير- ولایه بنګله دېش جمعه، د ۲۰۲۴م کال د اپرېل په ۱۹مه، د ډاکې او چټاګانګ ښارونو په بېلابېلو جوماتونو کې لاریونونه وکړل؛ د دغو لاریونو سرلیک دا و: «*دوې پرلپسې ورځې د اسرایلو له نامشروع دولت څخه ډاکې ته دوې مستقیمې الوتنې وشوې؛ دا له یهودي نامشروع دولت سره د اړیکو عادي کولو کې مهم ګام دی. له دغه کار سره د حسینې حکومت له اسلام او مسلمانانو سره خپل خیانت ښکاره کړ.*»

په لاریون کې ویناوالو له نامشروع یهودي دولت سره د اړیکو د عادي کولو په اړه د حسینې له حکومت څخه خپله نارضایتي او مخالفت په ډاګه کړ او ویې ویل: د حسینې حکومت د امریکا د خوشالولو او په واک کې پاتې کېدو لپاره د هغو عرب خاینو مسلمانو حکامو په لیکو کې ورګډېږي چې د ۲۰۲۰م کال، د سپټمبر په ۱۵مه یې د امریکا په منځګړیتوب په واشنګټن ډي سي کې «ابراهیمي تړون» لاسلیک کړ (او ځینې یې لاسلیک ته په تمه دي). په داسې حال کې چې د فلسطین پر مسلمانانو د ملعون یهودي دولت وحشت د نړۍ وجدان افشا کړ؛ د نړۍ مسلمانان د فلسطین د سپېڅلې خاورې او مسجد الاقصی د ازادولو لپاره د مسلمانو پر نظامي ځواکونو د بسیج کېدو غږ کوي او په داسې حال کې چې د روژې په سپېڅلې میاشت کې له الله سبحانه وتعالی څخه د مسلمانانو غوښتنه د فلسطین ازادي وه؛ د حسینې حکومت په بې شرمۍ د امریکا د "دوو ـ دولتونو حللارې" پالیسۍ سره سم د اسرایلو له نامشروع دولت سره د اړیکو عادي کولو ته بیړه کوي. د حسینې حکومت د خلکو احساساتو ته له پام پرته په پټه د امریکا مېشتو اسرایلي الوتکو راپرېښودو سره له نامشورع یهودي دولت سره د اړیکو د عادي کولو کې مهم ګام پورته کړ او له دې سره یې له اسلام او اسلامي امت سره د خیانت لاره غوره کړه.

په لاریون کې ویناوالو د فلسطین د مسلمانانو پر وړاندې د حسینې حکومت غولوونکې سیاست په ډاګه کړ او ویې ویل: حسینه یوه منافقه واکمنه ده چې د فلسطین د مسلمانانو لپاره په اوښکو تویولو یې خلک ګمراه کړي دي او حکومت یې له اشغالګرو یهودانو سره اړیکې ساتي. د هغې حکومت د بنګله دیش د سمندري ځواکونو ۷۵ غړي لبنان ته د سوله ساتي ماموریت په حیث لیږلي چې د مجاهدینو له بریدونو څخه د یهودي دولت ساتنه وکړي. له دې وړاندې د هغې حکومت د بنګله دیش له پاسپورټونو څخه د "له اسراییل پرته" کلمې لرې کړې، چې له نامشروع یهودي دولت سره اړیکې عادي کړي. په داسې حال کې چې د اسرایلو له لوري د

فلسطین د مسلمانانو په نسل‌وژنه کې تر اوسه د ۲۵۰۰۰ ماشومانو او ښځو په ګډون د ۳۳ زره فلسطینیانو ژوند له لاسه ورکړ، د حسینۍ حکومت د اسرایلي الوتکو راپریښودو سره د خیانت په غشي د مسلمانانو زړونه نور هم ټپي کړل.

**«قَاتَلَهُمُ اللهُ أَنىَّ يُؤْفَكُونَ» [منافقون:۴]**

**ژباړه:** *«الله دې دوی ووهي، څه ډول له حق څخه اوړي!»*

وېناوالو د فلسطین د سپېڅلې خاورې د ازادولو لپاره د مسلمانانو د مسولیت په یادولو سره وویل: اسلامي امت شاهد دی چې په ۱۹۲۴م کال کې د خلافت له ړنګېدو وروسته یهودیانو څنګه د فلسطین سپېڅلې خاوره د کافرو غربي اشغالګرو په مرسته ونیوله. غربي استعمارګرو پر اسلامي امت تپل شوو سیکولر غلامو حکامو د چوپتیا له امله لا هم د دغې سپېڅلې خاورې پر مسلمانانو ظلمونه او د مسلمانانو د لومړۍ قبلې بې حرمتي دوام لري. نو د فلسطین د ازادۍ یوازینۍ لار دا ده چې له حزب التحریر سره په سیاسي مبارزه کې د خلافت د بیا تاسیس لپاره سره یو موټی شئ او د امت هغه بچیان چې په پوځ کې دي وهڅوئ چې د خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړي او فلسطین ازاد کړي؛ ان شأالله.

**د حزب التحریر- ولایه بنګله دیش مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د شوال ۱۰مه**

**۲۰۲۴م کال، د اپرېل ۱۹مه**

**د صدور ګڼه: ۲۱/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**